# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۹ د وږي ۳۰مه | د ۲۰۲۰ د سپټمبر ۲۰مه | ۵۹۶یمه ګڼه


## پوهنتون

۴ مخ

### پیمان د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

د نويو پوهنځيو تاسيس، له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع، په کور د ننه او بهر له معتبرو پوهنتونونو سره ښې اړيکې او د علمي هوکړو لاسليک کول د دې موسسې راتلونکي پلانونه دي.




### الکو: روان کال د هلمند د انارو حاصلات له ۲۸ زرو ټنو اوښتي دي



د هلمند د کرنې او مالدارۍ رياست وايي، چې د دغه ولايت د انارو سړني حاصلات د کميت او کيفيت له پلوه ښه او ډېر شوي دي.

ياد رياست وايي، چې د هلمند په ۱۲سوه او ۲۲ هکټاره ځمکه کې د انارو بڼونه جوړ شوي، چې هر هکټار يې۲۳ ټنه حاصل ورکوي او په دې سره به د ياد ولايت د انارو سړني حاصلات ۲۸ زره او ۱۰٦ ټنو ته ورسيږي.

د هلمند د کرنې رييس زلمی الکو وايي، چې د کرنې رياست په هلو ځلو د خصوصي سکټور پرمټ تېرکال په دغه ولايت کې د انارو پر ۱۷ ډولونو او سږکال پر ۱٦ ډولونو څېړنې تر سره شوي، چې لومړنۍ پايلې يې ښې او مثبتې ارزول شوې دي. د انارو دغه ۳۳ ډولونه، چې پرې څېړنې شوي په ډېر لنډ وخت کې مېوه نيسي، ونې يې ټيټې او د ښه کميت او کيفيت لرونکي دي.

# د امريکا او طالبانو نږدېوالی؛

## ټاس: پاکستان وېره لري چې هسې نه طالبان يې پر ضد شي



۳

د سولې له خبرو سره د جګړې شدت
۲ مخ

له طالبانو سره د ايران د پېچلو اړيکو نوې بڼه
۲ مخ

وضعيت اقتصادی جهان پس از وبای کرونا
۳ مخ

### سيمه ييز خلک: په کندوز کې په هوايي بريدونو کې ۲۹ ملکيانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده


د راپورونو له مخې، په کندوز کې د وروستيو هوايي بريدونو له امله يو ځل بيا ګڼو ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

د ياد ولايت د خان اباد ولسوالۍ يو شمېر اوسېدونکي وايي چې د دغې ولسوالۍ په نېک‌پای سيمه کې هوايي بريدونه شوي، چې له امله يې د ماشومانو په ګډون ۳۰ ملکيانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. د عيني شاهدانو په خبره، لومړی بريد د وسله والو پر يوه مرکز شوی او کله چې د هغوی د راټولولو لپاره سيمه‌ييز خلک راټول شوي، وروباندې دويم بريد شوی چې په پايله کې يې ۱۲ ملکي وګړي او اووه طالبان وژل شوي او د دوو طالبانو په ګډون شل نور ټپيان شوي دي.

په ورته وخت کې د کندز د والي وياند عصمت الله مرادي مسير ورځپاڼې ته د د دغو بريدونو پخلی کړی دی، خو په وينا يې، دا چې سيمه د طالبانو تر کنټرول لاندې ده، د مرګ ژوبلې په اړه ډېر جزيات نه لري.

دا په داسې حال کې ده چې د قطر په پلازمېنه دوحه کې د سولې بين الافغاني خبرو له پيل سره هممهاله د جګړې ډګر هم تود شوی دی. په دې وروستيو کې د حکومتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ د جګړو او نښتو له کبله پر دواړو لورو سربېره ملکي وګړو ته هم درنه مرګ ژوبله اوښې ده.

### طالبان دې تلپاتې سولې ته د رسېدو لپاره اوربند ومني




۵ مخ

### سعادتی: هیأت طالبان تا کنون موانع جدی در برابر پروسه صلح ایجاد نکرده اند



معاون شورای عالی مصالحه ملی، فضای عمومی حاکم بر گفتگوهای دو جانبه، نسبتاً رضایت بخش دانسته و از هردو طرف خواست که موانع در برابر پروسه خلق نکنند تا به خوبی پیش برده شود. اسدالله سعادتی معاون سیاسی شورای عالی مصالحه ی ملی، این مطلب را دیروز در یک گفتمان، که در آن جوانان شش ولایت شرکت داشتند، بیان کرد. جمشید دانشجو که به نمایندگی از جوانان ولایت پروان در این گفتمان صحبت می کرد، از گروه طالبان خواست که از فرصت پیش آمده استفاده اعظمی بکنند و کینه ها و کدورت را کنار بگذارند و به نیت نیک وارد گفتگو شوند. وی از تشدید حملات طالبان در ولایت های مختلف کشور انتقاد کرده، گفت که از آغاز مذاکرات بین افغانی تا کنون در نتیجه درگیری میان طرفین، صدها تن کشته و صدها تن دیگر زخمی شده اند. ساره سیرت که به نمایندگی از جوانان و زنان شش ولایت زون مرکز صحبت می کرد، گفت که از پروسه صلح که از سوی مردم افغانستان به پیش می رود، حمایت می کنند و از هردو طرف می خواهند که در تحقق آرزوهای مردم افغانستان همکاری و هردو جانب منافع ملی و رفاه مردم افغانستان را مقدم تر از هر موضوع دیگر قرار بدهند. سپس اسدالله سعادتی معاون سیاسی شورای عالی مصالحه ی ملی آغاز مذاکرات در قطر را فرصت تاریخی دانسته و می گوید که جای بسا خوشبختی است که همه جریان های سیاسی، احزاب، مردم و حکومت افغانستان دیدگاه مشترک دارند و از پروسه صلح حمایت می کنند، در حالی که در گذشته این حمایت وجود نداشت.

## دریځ

### د سولې له خبرو سره د جګړې شدت

تمه وه چې په قطر کې د سولې د خبرو له پیل سره سم که بشپړ اوربند ونه شي، نو د تاوتریخوالي کچه به را ټیټه شي، خو له بده مرغه خبره سرچپه شوه. په تېرو څو ورځو کې له ګڼو ولایتونو د جګړې، نښتو، چاودنو او وژنو خبرونه ورکول کېږي. وسله وال طالبان پرله پسې پر امنیتي پوستو بریدونه کوي او حکومتي ځواکونو هم د ځمکې او هوا له لارې بریدونه ډېر کړي دي. دواړو اړخونو ته درنه مرګ ژوبله اوړي، چې ورسره ملکي وګړي هم په نښه کېږي. د سړک غاړې په چاودنو کې د ملکي مرګ‌ژوبلې تر څنګ پرون په کندوز کې په هوایي برید کې هم ګڼ ملکي وګړي مړه او ټپیان شوي دي.

دواړه اړخونه د تاوتریخوالي د زیاتولو پړه یو پر بل اچوي، خو واقعیت دا دی چې دواړه اړخونه د سیاسي موخو لپاره تاوتریخوالی زیاتوي. که دوی د سولې په خبرو کې جدي وي او غواړي دا خبرې ښې مخ ته ولاړې شي، نو که بشپړ اوربند نه شي کولی، لږ تر لږه د نېک نیت د ښودلو او باور فضا د زیاتولو لپاره باید تاوتریخوالی کم کړي. کله چې مشران په دوحه کې له یو بل سره خبرو ته ناست وي، یو له بل سره سلام، ستړي مشې او نېک چلند کوي، نو په افغانستان کې بیا د دغو مشرانو؛ کشران امنیتي ځواکونه او طالبان ولې یو بل سره ووژني!؟

ستونزه دا ده چې لا هم دواړه اړخونه د اوربند مسئلې ته له سیاسي زاویې ګوري. حکومت فکر کوي چې که پر طالبانو اوربند ومني، نو طالبان له زوره لوېږي او بیا د نورو سیاسي غوښتنو په نه منلو کې مقاومت کولی شي. حکومتي اړخ اوربند د سولې د بریا لپاره نه، بلکې د طالبانو د کمزوري کولو لپاره غواړي. طالبان هم جګړه پر حکومت د فشار لپاره کاروي او له امریکا سره له هوکړې وروسته په جګړو او بریدونو سره بیا بیا دا پیغام ورکوي چې امریکایان وځي او دوی د جګړې له لارې کولی شي چې حکومت له پښو وغورځوي. د دې شونتیا هم شته چې طالبان پر حکومت د فشار ترڅنګ د خپلو لیکو د ساتلو لپاره هم اوربند ته زړه نه ښه کوي.

یکار خو دا ده چې دواړه اړخونه اوربند یا اورکم ته له اخلاقي او دیني اړخه هم وګوري، نه له سیاسي اړخه. دا جګړه هره ورځ د لسګونو افغانانو ژوند اخلي او له بله اړخه په هېڅ ډول توجیه کېږي هم نه. طالبان باید تاوتریخوالی کم کړي، حکومت هم باید بریدونه او تحریک کوونکي کارونه بند کړي او د تاوتریخوالي له کمولو ناسمه استفاده ونه کړي. که د نورو طالبان بندیانو د خوشې کولو یا بل هر څه په بدل کې وي، باید دا جګړه نوره ودرېږي او افغان وژنه بنده شي. دواړه لوري درک کوي او پوهېږي چې سوله حتمي کېدونکې ده، خو دوی باید په دې هم فکر وکړي چې دواړه اړخونه د خدای تعالی او ولس پر وړاندې مسوول دي، نو ځکه تر هر څه ډېر تمرکز یې باید پر اوربند یا اورکم وي.

# له طالبانو سره د ایران د پېچلو اړیکو نوې بڼه

لیکنه: بارنټ روبین
ژباړه: زمریالی اباسین

**لومړۍ برخه:**

اته کاله وړاندې ما په یوه ناسته کې چې د ایران، څو اروپایي هېوادونو، افغانستان، ترکیې او امریکا متحده ایالتونو په ګډون د اتو هېوادونو استازو ګډون پکې کړی و، برخه اخیستې وه. زه دغه مهال په پارټ ټایم ډول د امریکا متحده ایالتونو حکومت د سلاکار په توګه هلته تللی وم او د ناستې زیاتره ګډونوال یا حکومتي استازي او یا د حکومتي چارواکو نږدې کسان وو. دغه ناستې چې د ".track-two meetings" په نوم یادېږي، په دې پړاو کې یې یو اروپایي ګډونوال پر ایران تور پورې کړ، چې طالبانو ته پوځي اکمالات کوي. یو متقاعد ایراني ډیپلوماټ په غوسې غبرګون وښود، وې ویل چې: «ایران څنګه کولی شي چې خپلو قسم خوړلو دښمنانو ته اکمالات وکړي؟» ما ځواب ورکړ چې ایرانیان دومره هم سادګان نه دي چې په یو وخت کې یو دښمن یا یوه پالیسي ولري.

همدارنګه د روان میلادي کال په لومړیو کې د امریکا او طالبانو تر منځ د توافق لاسلیک کولو په اړه هم د ایران دریځ ګډوډ ښکاري. په ۱۹۹۸م کال کې ایران له افغانستان سره تقریباً جګړې ته کېوتلی و. په دې وخت کې چې د افغانستان ډېری سیمې د طالبانو تر حاکمیت لاندې وې، پاکستاني جنګیالیو له طالبانو سره په ګډه مزارشریف کې د ۹ ډیپلوماټانو په ګډون، ۱۱ ایراني وګړي ووژل. په ۲۰۰۱ م کال کې ایران له امریکا سره د طالبانو د واکمنۍ پرځولو او پر ځای یې د نوي حاکمیت رامنځ ته کولو په برخه کې پوځي او استخباراتي همکاري وکړه او د جګړې په ډګر کې د پوځي او بُن ناسته کې د ډیپلوماټیک ملاتړ په وړاندې کولو سره یې امریکا سره لاس یو کړ. څو کاله ایران له طالبانو سره د سیاسي تعامل مخالفت وکړ او د القاعده او طالبانو تر منځ توپیر یې رداوه. کله چې افغانستان کې د امریکا متحده ایالتونو د پوځي حضور شلمه کلیزه راورسېده او متحده ایالتونو د ایران له اټومي موافقې پښې وویستلې او پر اسلامي جمهوریت یې بندیزونه نور هم زیات کړل، ایران پر طالبانو غږ وکړ چې له افغانستانه په بشپړه توګه امریکایي ځواکونه وباسي، د طالبانو اصلي غوښتنه چې امریکا د دوحې توافق په لاسلیک کولو سره ومنله. ایران همدا راز د افغانستان په سویلي ولایتونو کې طالب قوماندانانو ته د تسلیحاتي اکمالاتو په رسولو سره هم امریکا ته خپل پیغام ورساوه او هم یې له افغانستان سره په ګډه پوله د احتمالي ګواښونو پر وړاندې مبارزې ته چمتووالی وښود. په ورته وخت کې ایران هم د هغو هېوادونو په ډله کې راځي چې د امریکا او طالبانو تر منځ د توافق لاسلیک کولو په اړه یې منفي ځرګندونې کړې او ویلي یې دي چې د دې توافق په لاسلیک کولو سره امریکا د طالبانو د افغانستان اسلام امارت په رسمیت پېژندلی، چې د تهران په وینا، د ایران ملي امنیت ګواښي. ایراني چارواکي چې تهران ته د طالبانو د مرستیال ملا عبدالغني برادر هرکلی یې وکړ، هغه څه چې ډونالډ ټرمپ یې هم کمپ ډېوېډ کې د عملي کولو هیله درلوده، ادعا کوي چې طالبانو ته یې ویل افغانستان کې د طالبانو اسلامي امارت بیا رامنځ ته کول به د ایران د یوې سرې کرښې د ماتولو په مانا وي. خو روسیه چې د امارت په هکله یې ورته دریځ ځرګند کړی، د امریکا او طالبانو تر منځ توافق د خپلې سترې موخې تر لاسه کولو په برخه کې د تر ټولو غوره ګام په توګه یادوي: د پخواني شوروي اتحاد پخوانیو سویلي پولو کې له جوړو شویو اډو د امریکا متحده ایالتونو د پوځونو شړل. یو ایراني چارواکي له ما سره په خبرو کې د نوم پټ ساتلو په شرط وویل، روسي چارواکو له خپلو ایراني سیالانو غوښتي چې په رښتیا له افغانستانه د امریکایي ځواکونو وتل غواړي او که نه. د رالف والډو ایمرسن یوه مشهوره وینا ده چې وایي: «یوه احمقانه سازګاري د کوچنیو ذهنیتونو هغه سرګرمي ده چې د کوچنیو حاکمانو او فیلسوفانو لخوا رامنځ ته شوې او حاکمیت چلوي.» د ایرانیانو لپاره د ایران، د دغه هېواد د حاکمانو، فیلسوفانو په هکله هیڅ کوچنی شی وجود نه لري او حاکمیت ته دوام ورکوي. لامل یې هم دا دی چې ایران زرګونه کاله نه ماتیدونکی تاریخ او مدنیت لري. که څه هم ښایي د افغانستان په اړه د ایران سیاست د یوې احمقانه سازګارۍ له قلت سره مخ وي، خو دې چارې ایران په یو داسې موقعیت کې ساتلی چې ښایي د افغانستان په اړه د دغه هېواد تر ټولو ممکن تر لاسه کېدونکی موقعیت وي: هېڅوک پر ایران باور نه کوي، خو هېڅوک نه غواړي چې پر وړاندې یې مخالفت هم وکړي.

د طالبانو په اړه د ایران لیدلوری د ایران پر وړاندې د تر ټولو ستر ګواښ (امریکا متحده ایالتونو) سره د طالبانو د اړیکو د تحلیل پر بنسټ راڅرخي. له دې زاویې، د طالبانو پر وړاندې د ایران سیاست د سړې جګړې له هماغه سیاستونو خپل ښکاري، چې امریکا به له هېوادونو سره خپل تعامل له پخواني شوروي اتحاد سره د دغو هېوادونو د اړیکو ځرګندوالي په پام کې نیولو سره ترتیباوه. ایران د هغې شمالي ټلوالې په رامنځ ته کې ښکېل و چې په ۱۹۹۲م کال کې یې د ولسمشر محمد نجیب حکومت نسکور کړ او په پایله کې د برهان الدین رباني اسلامي حکومت رامنځ ته شو، چې په تشکیل کې یې غوښنه برخه د شمالي ټلوالې وه. ایران په هرات کې له اسماعیل خان او شمال- ختیځ کې احمدشاه مسعود سره خورا ښې اړیکې درلودې. ایران تر ۱۹۹٦م کال د افغانستان شمالي څنډو کې ځالې جوړې کړې او له دغو سیمو به یې د تاجکستان اسلامي تحریک ته مرستې رسولې.

که څه هم رباني د حنفي فقهې د سني مذهب لاروی و، خو دا چې فارسي ژبی و، له همدې امله یې ورسره ټینګې اړیکې درلودې. د رباني د حکومت مخالفه ډله چې مشري یې ګلبدین حکمتیار کوله او د عربو اسلامي کړیو یې د پاکستان او سعودي عربستان په همکارۍ ملاتړ کاوه، ایران ته یې «په برېټانیا کې د جوړو شویو ملایانو» وهابیت او امریکا له عینکو کتل او د ایران پر وړاندې مخالف صف کې ولاړ و. ایران په دغه وخت کې په زغرده ویل چې امریکا د طالبانو ملاتړ کوي. دغه ډول ځرګندونې چې نن یې ایران یو ځل بیا کوي، د امریکا او طالبانو تر منځ د دوحې توافق له امله دي.

له هماغه لومړیو چې پاکستان په ۱۹۹٦م کال کې د طالبانو ملاتړ پیل کړ، ممکنه وه چې وروسته د ګازو هغې نللیکې د امنیت خوندي کېدو سره چې له ترکمنستان د افغانستان له لارې پاکستان ته لېږدول کېده او له امله یې له ایران فارس خلیج ته د طبیعي ګازو نللیکې مسیر تر اشغال لاندې راتلای شوای، دې مفکورې ته لار هواره کړه چې ووایي، طالبان د امریکا د ستراتیژیک پلان هغه برخه وبولي چې د ایران څنډې ته کولو لپاره رامنځ ته شوې ده. ایران وېره درلوده چې که چېرې طالبان کابل تر ولکې لاندې راولي، افغانستان کې به ثبات رامنځ ته شي او په دې توګه به د ګازو نللیکې د پروژې امنیت خوندي او د ایران ګټې به وګواښي.

د ایران او طالبانو تر منځ خصومت په ۱۹۹۸م کال کې هغه مهال اوج ته ورسېد، چې طالبانو د پاکستان د پراخ ملاتړ په اډانه کې د افغانستان ډېرې شمالي سیمې ونیولې. دوی دا مهال اسماعیل خان راپرځولی او زنداني کړی و. ورپسې یې کندوز او مزارشریف هم تر ولکې لاندې راوستل. دغو عملیاتو د افغانستان په شمالي دهلیز کې له ازبکستان او تاجکستان سره د ایران مسیر پرې کړ. د مزارشریف د نیولو پر مهال، د پاکستان د سپاه صحابه سني ډلې چې له طالبانو سره یې جګړه کې ملتیا کوله، مزار کې یې ۱۱ ایرانیان ووژل چې یو ژورنالېست او نهه ډیپلوماټان پکې شامل وو. طالبانو دغه راز سل نور ایرانیان هم د رباني له حکومت سره د همکارۍ له امله بندي کړل.

دا چاره د ایران پلوو جهتونو د پوځي انسجام لامل شوه او جګړه پراخه شوه. دغه مهال د طالبانو پر ضد د جګړې لپاره ایران کې پراخ ملاتړ رامنځ ته شو.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي لخضر براهیمي د جګړې د مخنیوي په موخه مداخله وکړه. هغه کندهار کې له ملا عمر او تهران کې له خاتمي سره ولیدل. ایران ته د ایراني اسیرانو د لېږد په برخه کې د براهیمي هڅو رنګ راوړ او اسیران ایران ته واستول شول. تهران کې له ډېرې بریا پرته براهیمي هڅه وکړه څو ایراني چارواکي پر دې قانع کړي چې طالبان د امریکا متحده ایالاتو نیابتي مهرې نه دي، خو د اسیرانو خلاصون د کړکېچ زیاتېدو مخه نیولې وه.

د اصلاح طلبي ولسمشر خاتمي د واکمنۍ پر مهال، چې په ۱۹۹۷ او ۲۰۰۱ م کلونو کې ولسمشر و، د امریکا- ایران د اړیکو ښه کولو پیل ته لارې هوارې شوې څو ایران وکولی شي د سپټمبر د یوولسمې له پېښو وروسته په چټک ډول خپلې اړیکې ورغوي، که څه هم دغه مهال ایران داسې انګېرله چې دا امریکا وه چې بدلون یې کړی و، نه ایران. د امریکا دا پرېکړه چې د سپټمبر د نهمې او یوولسمې له پېښو وروسته د القاعده له منځه وړلو او د طالبانو د واکمنۍ نسکورولو په اړه ګامونه واخلي، ایران داسې و انګېرله چې د امریکا عقل سرته راغلی او پوهه شوې چې اصلي ترهګري له کومه ځایه رامنځ ته شوې ده. پدې توګه امریکا له پاکستان او سعودي عربستان سره له خپلو تاریخي تعاملاتو بهر له ایران او روسیې سره د فعالو همکاریو رامنځ ته کولو ته وهڅېده. سي ای اې له دوشنبې سره د ابتدایي اړیکو تامینولو ته ملا وتړله، چېرې چې وار له مخه متحده ایالتونو له ایران سره د تاجکستان د سولې پروسې په تړاو همکاري درلوده. امریکا له هغو زېربناوو چې وار له مخه د ایران او روسیې لخوا تاجکستان کې جوړې شوې وې، کار اخیستنه پیل کړه څو له دې ځایه طالب ضد کړیو ته د افغانستان شمالي سیمو کې مرستې ورسوي. د ایران د سپاه قدس اسلامي انقلابي ځواک قوماندان جنرال قاسم سلیماني شخصاً خپله له سي ای اې سره په پنجشیر او بګرام کې د اډو جوړولو کې مرسته وکړه. د امریکا د ولسمشر ځانګړي استازي جیمز ډابنز د کابل په شمال چاریکار ښار کې د ایران له سفیر ابراهیم طاهریان سره وکتل او په دې لیدنه کې د سپاه قدس غړیو، چې په ۲۰۱۴م کال کې متحده ایالتونو د یوې ترهګرې ډلې په توګه وپېژندل، هم ګډون درلود.

**دوام لري...**

# وضعیت اقتصادی جهان پس از وبای کرونا

مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

قسمت دوم:
انتقال شرکت های تولیدی از کشورهای با جمعیت پیر به کشورهای جوان: میانه سنی جمعیت در خیلی از کشورها در مرز خطرناکی رسیده میانه جمعیت آلمان ۴۹ سال، میانه جمعیت ایتالیا ۴۸ سال، یعنی نصف جمعیت بالای ۴۹ سال است. کمپنی ها در این کشورهای که تمدن های پیر اند، اینها ظرف سال های آینده میخواستند بیرون بروند، ولی ویروس کرونا باعث میشود که اقتصاد این کشورهای پیر رو به ضعف نهند، بعد از این واقعه، احتمالاً شرکت ها دیگر به این کشورها بر نگردند، برنده این داستان کشورهای اند که میانه جمعیت شان جوان است. پس از آنکه کرونا اقتصاد جهانی را ضعیف نمود، شرکت ها دنبال کشورهای جوان می روند.

افزایش بدهی (قروض) دولت‌ها: جهان بیش از حد بدهکار شده و اصلاً الگوی اداره دنیا از سال ۱۹۸۰ به این طرف این است که کشورها برای حل مشکلات شان به بدهی بیشتر متوسل میشدند. مثلاً: نسبت بدهی و تولید ناخالص ملی (تولید ناخالص ملی = مجموع دست مزد در یکسال + سرمایه گذاری جدید) در سال ۱۹۸۰، ۸۰ درصد تولید ناخالص ملی بوده و حالا ۲۴۰ درصد است. آشکار ارشد بدهی خیلی بیشتر از رشد تولید ناخالص ملی، دست مزد و ثروت ملی بوده و این مشکل ظرف چند سال آینده اگر کرونا نبود، بروز می کرد. ولی کرونا باعث می شود که این بحران طی سال جاری به مرحله پایانی خودش برسد. دولت‌ها نه تنها در مقابل دولت‌های پیشرفته بدهی دارند، بلکه از سازمان های بین المللی چون بانک جهانی و صندوق بین المللی پول وام میگیرند. بر اساس سیاست های این سازمان ها قرض داده شده بعد از مدتی تعین شده همراه با مفاد آن داده می شود که دو چند و یا سه چند پول قرض گرفته شده، می باشد از همین رو کشورهای وام گیرنده با قرض های انباشته شده دیگر توانایی پرداخت قرض را نمی داشته باشند و این موجب می شود تا کشورها و سازمان های وام دهنده یک قسمت عظیمی از وام ها را ببخشند. مثلاً: کشور آلمان توسعه پیدا کرده است ثروتش را به کشورهای چون ایتالیا و هسپانیا وام داده است و بحرانی که در ایتالیا و هسپانیا به وجود آمده به سادگی باعث میشود که این ها منکر بدهی شوند و یک قسمت اعظم بدهی ها باید بخشیده شوند.

سازمان های جهانی از جمله صندوق بین المللی پول و انستیتیوت اقتصاد نگرانی های خود را در رابطه به اقتصاد جهانی در پسا کرونا چنین بیان نمودند. «صندوق بین المللی پول در ماه آپریل مبنی بر سه درصد کاهش اقتصاد جهانی نشان دهنده وقوع بدترین رکود پس از رکود بزرگ دهه ۱۹۳۰ است. صندوق پیش بینی کرده بود که کشورها در سال ۲۰۲۱ تا حدی این سقوط را جبران خواهند کرد، اما نظر به مسیر وقایع در رابطه به شیوع کرونا، نتایج میتواند بسیار بدتر از پیش بینی های انجام شده باشد.

رئیس صندوق بین المللی پول گفته است که تلاش برای بهبود تجارت جهانی به بهبود اقتصاد جهانی نیز کمک می کند، در غیر این صورت «هزینه ها بالا می رود، درآمدها کم می شود و ما در دنیایی ناامن تر خواهیم بود.»

رئیس صندوق همچنین گفته است که صندوق بین المللی پول تاکنون به درخواست ۵۰ کشور از مجموع ۱۰۳ کشور نیازمند کمک مالی پاسخ گفته است. کشورهای فقیر بیش از سایر کشورها در معرض شیوع ویروس کرونا هستند.

بین المللی پول اعلام کرد کشورهای خاورمیانه به سبب کاهش چشمگیری قیمت نفت در مقایسه با سایر کشورها با بحران های مالی ژرف تری مواجه می شوند.»

در همین حال «دیپارتمنت امور اقتصادی و اجتماعی ملل متحد (DESA) اعلام کرد با وجود کاهش موج پاندمی کوید-۱۹، اقتصاد جهان در سال ۲۰۲۰ با تحمل ۸.۵ تریلیون دالر زیان، تا ۳.۲ درصد کوچک خواهد شد. این بحران موجب از بین رفتن حدود چهار سال دستاورد تولید اقتصاد جهانی خواهد شد.

بر اساس این گزارش، تولید ناخالص داخلی در کشورهای توسعه یافته به منفی ۵ درصد سقوط خواهد کرد. این در حالی است که در تولید ناخالص داخلی اقتصادهای در حال توسعه تا ۰.۷ در صد کاهش خواهد یافت.»

به هر حال، اگر سیرنزولی اقتصاد تا یک رکود بزرگ جهانی ادامه یابد، بسیاری از کشورها، ضرر جبران ناپذیری خواهند کرد و نظام اقتصادی به پرتگاه سقوط خواهد رفت و کشورهای صنعتی که اقتصاد شان متکی به صادرات است به ویژه کشورهای تولید کننده نفت، با مشکل روبرو خواهند شد.

«وضعیت اقتصادی خاورمیانه از دیدگاه صندوق بین المللی پول به نسبت سایر کشورها با بحران مالی ژرف تری (به سبب کاهش چشمگیر قیمت نفت) مواجه خواهد شد. اما کشورهای روبه رشد، به نسبت کشورهای صنعتی و توسعه یافته بزرگترین آسیب را خواهند دید، چون در مقابل سایر کشورها تکیه بیشتر بر بازار سهام و بورس دارند.

با این حال، مایک برنبرگ، اقتصاددان ارشد مرکز مطالعات فلوریان هنس بر این باور است که بعد از تجربه سقوط شدید نرخ رشد اقتصادی دنیا در جریان همه گیری ویروس کرونا و تعطیلی گسترده فعالیت‌های اقتصادی، پیش بینی می شود که اقتصاد رشد تدریجی را در پیش بگیرد.

یعنی با وجود باز شدن اقتصاد و فعالیت عادی کسب و کارها ولی مردم برای بازگشت به وضعیت عادی قبل از کرونا نیاز به صرف زمان بیشتری داشته باشند. در این وضعیت، روند بازسازی اقتصادی کند و تدریجی خواهد بود و ما شاهد ایجاد طرح به عنوان گراف رشد اقتصادی دنیا طی سال‌های ۲۰۲۰ و ۲۰۲۱ خواهیم بود که شکلی شبیه نشانه «تیک» یعنی چیزی شبیه لوگوی شرکت نایک دارد.»

نفت و کرونا
اگر بیماری همه گیر کرونا هم بروز نمی کرد، شرایط در بازار نفت دیگر تغییر کرده بود و این تغییر ناشی از ظهور نفت شیل بود که سازمان اوپک را در این اواخر ضعیف نموده است. با کاهش تولید نفت در لیبیا، ونزوئلا و ایران، عملاً بخشی از توان تولید اوپک کم شده است. از طرف دیگر، توافق های مربوط به کاهش تولید نفت توسط کشورهای عضو اوپک سبب شده است که عملاً بازار نفت برای بزرگ ترین رقیب اوپک که ایالات متحده است، باز شود.

بیماری همه گیر کرونا موجب برجسته شدن این ضعف شده است، زیرا پیش بینی رکود اقتصادی سنگین تقاضا برای نفت به شدت کاهش یافته است. از طرف دیگر، متوقف نمودن تولید نفت خیلی هم آسان نیست، در خیلی موارد هر گاه اگر بخواهند تولید نفت را در چاهی خاتمه دهند، چاه نفت را با یک انفجار متوقف می سازند که این مورد نیز برای شرکت های تولید نفت زیان های دوچند نسبت به فروختن به قیمت منفی، می باشد. برای همین به این زودی نمی توانند نفتی که تولید شده را متوقف سازند، در عوض آنرا به قیمت کمتر از مصارف تولیدی آن را به فروش می رسانند.

تنها چیزی که میتوان حول آینده صنعت نفت گفت: این است که حتی در صورت بهبود شرایط و تقاضا، ظرفیت زیادی برای افزایش تولید نفت وجود دارد که می تواند تا سال‌ها بازار را از نفت اشباع کند، و دوران رؤیای نفت تا زمانی برنمی گردد تا دوباره به کمبود شدید نفت دچار نشویم.

دوام دارد...

# د امریکا او طالبانو نږدېوالی؛

## ټاس: پاکستان وېره لري چې هسې نه طالبان یې پر ضد شي



په دې وروستیو کې امریکا د طالبانو په اړه د خورا نږدېوالي څرګندونې کوي. ټرمپ په خپلو څرګندونو کې ویلي چې له طالبانو سره ښه چلند کوي، بلخوا نړیوال خبري اژانسونه وایي چې د طالبانو او امریکا نږدېوالي پاکستان ورخطا کړی دی او وېره لري چې هسې نه طالبان د پاکستان پر ضد شي. ټاس خبري اژانس وایي، طالبانو له هند سره هم ګرم مذاکرات پیل کړي، څو د دغه هېواد ټولې اندېښنې رفع کړي. بلخوا ځینې امریکایي چارواکي او د امریکا له حکومت باخبره کسان بیا وایي چې د امریکا له لوري طالبانو ته ډېر نږدېوالی د واشنګټن په ګټه نه دی.

وروسته له هغه چې په دوحه کې د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې هوکړه لاسلیک شوه، دواړه لوري لا سره نږدې شول او په خپلو کې یې پر یو بل د برید نه کولو ژمنه وکړه. هغه مهال هم ټرمپ وویل چې له طالبانو سره نور دښمني نه لري او دغه ډله باید له نړیوالو ترهګرو شبکو سره خپلې اړیکې پرې کړي.

اوس تازه د روسیې مشهور خبري اژانس (ټاس) په یوه مطلب کې ویلي، چې طالبان او امریکا د بل هر وخت په پرتله نږدې شوي او دې نږدېوالي پاکستان اندېښمن کړی دی.

د ټاس خبري اژانس په دغه مطلب کې راغلي، طالبان او امریکا ډېر سره نږدې شوي دي او په دوحه کې د دې ډلې دفتر دمګړۍ په یوه مهم سیاسي دفتر بدل شوی، چې هره ورځ د بېلو هېوادونو سفیران په مستقیمه توګه له طالبانو سره ګوري او پر بېلو مسایلو خبرې کوي. ټاس لیکي، پاکستان له دې وېره لري چې ښایي د امریکا او طالبانو ډېر نږدې کېدل پاکستان ته ګواښونه جوړ کړي او طالبان په راتلونکې کې ان د پاکستان پر وړاندې هم اقدام وکړي.

ټاس لیکي، د طالبانو او امریکا تر ټولو ډېره اندېښنه د پاکستان له استخباراتي اداري یا ای ایس ای سره ده او دوی په دې وېره کې دي چې که طالبان یې له کنټرول ووتل، نو په پاکستان کې به کشمکشونه ډېر شي.

ټاس اژانس دا هم وایي چې طالبان دمګړۍ د ځینو هېوادونو د اندېښنو د لرې کولو په لټه کې دي. په قطر دفتر کې د طالبانو باوري سرچینو دغه اژانس ته ویلي چې د طالبانو څو مهم کسان له هند سره په تودو مذاکراتو بوخت دي او غواړي دغه هېواد قانع کړي چې دوی ورسره دښمني نه لري او راتلونکي دښمنان به یې نه وي. دې هر څه پاکستان ته اندېښنې جوړې کړې دي، څکه رسنۍ او نړیوال په دې باور دي چې پاکستان پر طالبانو پوره نفوذ لري او د دغه نفوذ له امله دوی بریالي شول چې طالبان له امریکا سره مخامخ خبرو ته کېنوي.

بلخوا د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ یو ځل بیا طالبان هوښیار او پیاوړي خلک بللي دي او له دوی سره یې پر ښه چلند ټینګار کړی دی. تېره ورځ رویټرز خبري اژانس یو راپور خپور کړ او په هغه کې یې د ټرمپ له خولې ویلي چې طالبان هوښیار او ځیرک خلک دي. ټرمپ وایي، دوی له دې ډلې سره خپلې اړیکې پالي او په خبره یې له یوې افغان وسله والې ډلې سره یې د سولې هوکړه کړې ده او هڅه کوي چې له دې ډلې سره ښه چلند وکړي. د ټرمپ دا څرګندونې بې مخینې وې او په داسې وخت کې چې بین الافغاني خبرې روانې دي او طالبان هڅه کوي د مذاکراتو پر مېز ډېر امتیاز خپل کړي، نوموړی یې په اړه دغه ډول تودې څرګندونې لري.

بلخوا د امریکا د ملي امنیت پخواني سلاکار مک ماسټر بیا ویلي، چې ټرمپ د افغان حکومت پر وړاندې عقدیې چلند لري، خو له طالبانو سره یې چلند خورا له نرمښت ډک دی. هغه ویلي وو، دا هر څه د امریکا د ملي ګټو په زیان دي. بلخوا په دوحه کې د افغان حکومت او طالبانو تر منځ خبرې لا هم پر ځینو مسایلو د اختلاف له امله په رسمي توګه نه دي پیل شوې او د اجنډا پر بشپړولو کار روان دی.

# ملګري ملتونه: د بېلاروس حکومت دې ژر تر ژره په دغه هېواد کې بشري ضد کړنې پای ته ورسوي

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا د بېلاروس له چارواکو غوښتي چې د لاریونونو پر مهال د شوي تاوتریخوالي څېړنو ته زمینه برابره کړي.

یادې شورا دغه راز د تاوتریخوالي د څارنې په تړاو د اروپایي ټولنې مسوده هم تصویب کړه.

په دې توګه به د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمېشنر مېشل باشیلي ته واک ورکړل شي چې د بېلاروس وضعیت له نږدې وڅاري او د روان کال تر پایه خپل وړاندیزونه په یوه راپور کې وړاندې کړي.

د بشري حقونو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ مرستیالې ندا الناشف ویلي چې دوی ته په بېلاروس کې د بشري حقونو د سرغړونو ګڼ راپورونه رسېدلي دي. الناشف زیاته کړې: «موږ د زرګونه کسانو د نیولو شاهد یو، د شکنجې او جنسي تاوتریخوالي په سلګونه پېښې راپور شوي دي، موږ حتی د ماشومانو د شکنجې راپور ترلاسه کړی، خلک په رڼا ورځ د مخ پټو کسانو لخوا تښتول شوي؛ څکه چې هغوی غوښتل خپل نظریات په سوله ییزه توګه څرګند کړي.»

ندا دغه راز ټینګار کړی چې د بېلاروس چارواکي باید رښو، بې پرې او چټکو څېړنو ته اسانتیا برابره کړي او سمدستي دې تاوتریخوالی پای ته ورسوي. دغه راز د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا د اروپایي ټولنې وړاندیز په ۲۳ مثبتو رایو تصویب کړ او دوو هېوادونو مخالفه رایه ورکړه. روسیې د بېلاروس د رژیم له خوا د لاریون کوونکو د ځورونې او ورسره د تاوتریخوالي د څېړنې د پرېکړه لیک د اصلاح لپاره ځینې موارد وړاندې کړي وو چې ونه منل شول.

په ورته وخت کې د بېلاروس د بهرنیو چارو وزارت وایي، چې د ملګرو ملتونو سازمان دا اقدام به خطرناکې پایلې ولري. یاد هېواد تور پورې کړی چې ملګري ملتونه د بېلاروس په کورنیو چارو کې لاسوهنه کوي.

د یادونې ده چې په بېلاروس کې وروسته له هغې پراخ لاریونونه پیل شول او زرګونه کسان پکې د حکومت له خوا ونیول شول چې د اګسټ په نهمه الکساندر لوکاشینکا د ولسمشرۍ ټاکنو ګټونکی اعلان شو. د یاد هېواد د حکومت مخالفانو وویل چې لوکاشینکا په درغلیو بیا ولسمشر شوی او دوی ته د منلو نه دی. د بېلاروس د حکومت زرګونه پلویان لارو او سړکونو ته راوتلي او له واکه د لوکاشینکا د لرې کېدو او دویم ځل ټاکنو د ترسره کېدو غوښتنه کوي، خو لوکاشینکا چې ۲٦ کاله په بېلاروس واک چلولی، وایي چې ټاکنې یې ګټلي او په هېڅ وجه بیا ټاکنې نه ترسره کوي.

## د کتــاب خبــرې

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري فرصتونه او ستونزې

◎ لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

### درېیم فصل

### د سیمه‌ییزې همکارۍ لپاره شته فرصتونه




**۱۲ـ د افغانستان د ریل شبکه**

د افغانستان د ریل شبکې له مخې به د افغانستان مختلفې برخې د ریل په وسیله له یو بل سره وتړل شي. د ریل لارو په اړه د افغانستان ملي پلان له مخې به افغانستان په سیمه‌ییزې ترانسپورتي لارې بدل شي .د افغانستان د ریل شبکه به د سیمې د نورو هېوادونو ایران، روسیې او چین د ریل شبکو سره وتړل شي . ویل کېږي چې د افغانستان د ریل شبکه به ۵۰۰۰۰ نوې دندې او ۲۰۰۰۰۰ غیر مستقیمې دندې خلکو ته پیدا کړي په ۲۰۱۱ زکال کې په افغانستان کې د حیرتان – مزارشریف ترمنځ د ریل لار بشپړه شوه. حیرتان – مزارشریف ریل لار باندې ١٦٥ میلیونه ډالر، کف – هرات ریل لار باندې ۱۴۱.۸ میلیونه ډالر او د ترکمنستان – افغانستان – تاجکستان ریل لار باندې ۸۱۰ میلیونه ډالر مصرف راځي. د دې پروژې له تطبیق سره مرسته کوونکي افغانستان، چین، ایران، ایټالیا، پاکستان، تاجکستان، ترکمنستان، دامریکا متحد ایالتونه، ازبکستان، اسیایي پراختیایي بانک او اروپایي اتحادیه دي .

**۱۳ـ له پولود تېرېدلو ترانسپوتي تړون: (CBTA) Cross Border Transport Agreement**

له پولو د تېرېدلو ترانسپورتي تړون هدف د افغانستان، تاجکستان او قرغزستان ترمنځ د سوداګریزو اړیکو پراختیا ده چې په وسیله به یې د اقتصادي ودې، د عوایدو زیاتېدو او د نویو دندو پیدا کېدو لپاره زمینه برابره شي او دغه تړون به د افغانستان اود سیمې د هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ له پراختیا سره مرسته وکړي. له پولو د تېرېدلو ترانسپوتي تړون د۲۰۱۱زکال په نومبر کې د تاجکستان، د ۲۰۱۱ زکال په ډسمبر کې د افغانستان او د ۲۰۱۳ زکال په جولای کې د قرغزستان له لوري لاسلیک شو.

**۱۴ـ د ځانګړو اقتصادي زونونو، د څو ډوله ترانسپورت او لوجستیک د اسانتیاوو پروژه**

د پورتنۍ پروژې هدف د سیمې د هېوادونو ترمنځ سوداګرۍ، ترانزیټ او سیمه‌ییزو ترانسپورتي لارو ته پراختیا ورکول، د سوداګرۍ پروړاندې د پرتو خنډونو لمنځه وړل او د سیمه‌ییزې سوداګرۍ پر وړاندې د اسانتیاوو رامنځ ته کول دي د افغانستان حکومت د پورتنۍ پروژې له مخې په بلخ، کابل، قندهار، هلمند، هرات، جلال اباد، اقچه، تورغونډۍ او زرنج کې ځانګړي اقتصادي زونونه او د څو ډوله ترانسپورت او لوجستیک اسانتیاوې رامنځ ته کړي دي .

**۱۵ـ د ترکمنستان – افغانستان او تاجکستان ریل لار – Turkmenistan Afghanistan and Tajikistan (TAT) rail way:**

د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني او د ترکمنستان ولسمشر بردي محمدوف د ۲۰۱٦زکال په نومبر کې د ترکمنستان – افغانستان او تاجکستان د ریل لارې د جوړېدو چارې په رسمي ډول پرانیستلې. د دې ریل لارې په جوړېدو سره به له ترکمنستان او تاجکستان سره د افغانستان اړیکې او همکاري پراختیا پیداکړي اودغه ریل لار به د سیمه‌ییزې همکارۍ له پراختیا سره ډېره مرسته وکړي .

**۱٦ـ د چین او پاکستان اقتصادي دهلېز**

د چین او پاکستان اقتصادي دهلېز یوه ستره اقتصادي پروژه ده، چې په وسیله به یې د چین په سینکیانګ کې کاشغر د پاکستان په بلوچستان کې له ګوادر بندر سره ونښلول شي د چین او پاکستان اقتصادي دهلېز د چین او پاکستان ترمنځ د اړیکو او همکاریو د پراختیا لپاره ډېر مهم ګڼل کېږي او دا ستره پروژه به د دواړو هېوادونو ترمنځ په مختلفو برخو کې د اړیکو او همکاریو د پراختیا لپاره زمینه او شرایط برابر کړي .

د پاکستان او چین د اقتصادي دهلېز د جوړېدلو په صورت کې به افغانستان او د منځنۍ اسیا هېوادونه د دې فرصت ترلاسه کړي، چې خپل سوداګریز توکي د ګوادر بندر له لارې منځني ختیځ او اروپا ته ولېږدوي .افغانستان به د چین او د منځنۍ اسیا د هېوادونو ترمنځ له سوداګرۍ او ترانزیټ څخه هرکال د پام وړ عواید ترلاسه کړي .د دې ترڅنګ چینایان او پاکستانیان مجبور دي، څو د پاکستان او چین د اقتصادي دهلېز پروژې د کامیابېدو لپاره په افغانستان کې د سولې او ثبات له ټینګښت څخه ملاتړ وکړي. په افغانستان کې د جګړې او ناامنۍ د دوام په صورت کې به د پاکستان او چین د اقتصادي دهلېز پروژه له ناکامۍ سره مخامخ شي .

**ب ـ د سیمه‌ییزې همکارۍ په پراختیا کې د سیمه‌ییزو سازمانونو رول**

افغانستان د یو شمیر مهمو سیمه‌ییزو سازمانونو غړی یا څارونکی غړی هېواد دی، خو دیادو سازمانونو رول او نقش په افغانستان کې ډېر څرګند او روښانه نه دی له دغو سازمانونو سره د اړیکو او همکاریو د پراختیا لپاره مهمه ده چې سیمه‌ییز سازمانونه په افغانستان کې یو څرګند او ښکاره رول ترسره کړي . سیمه‌ییزو سازمانونو د سیمې د هېوادونو او خپلو غړو هېوادونو ترمنځ د سیمه‌ییزې همکارۍ په پراختیا او پیاوړتیا کې مهم رول ترسره کړی او اوس یې هم ترسره کوي . د سیمه‌ییزو سازمانونو د جوړېدو یو مهم هدف سیمه‌ییزې همکارۍ ته پراختیا ورکول دي. څنګه چې ورته اشاره وشوه افغانستان د مهمو سیمه‌ییزو سازمانونو غړیتوب لري، افغانستان د جنوبي اسیا د همکاریو سازمان «سارک» د اقتصادي همکاریو سازمان «ایکو» او د مرکزي اسیا د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو پروګرام ( کریک) غړی او د شانګهای د همکاریو سازمان څارونکی غړی هېواد دی .

**دوام لري...**

# پیمان د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي




پیمان د لوړو زده کړو خصوصي موسسې په ۱۳۹۳ کال کې د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ د دوو پوهنځیو (حقوقو او سیاسي علومو او ښوونې او روزنې) په درلودلو سره په تخار ولایت کې په فعالیت پیل کړی دی. د پیمان د لوړو زده کړو خصوصي موسسې موسس محمد همایون پیمان وایي، په همدې کال کې یې له لوړو زده کړو وزارت څخه د معالجوي طب پوهنځي د منظورۍ غوښتنه وکړه، کار یې بشپړ کړی و، خو د ولسمشرۍ ماڼۍ له لوري په خصوصي پوهنتونونو کې د طب پوهنځیو د تاسیس له بندېدو سره د دوی کارونه هم په ټپه ودرېدل، خو وروسته لوړو زده کړو وزارت ورته د قابلګۍ پوهنځي د تاسیس جواز ورکړ چې اوس ټول درې پوهنځي لري او درې واړه فعال دي. د پیمان د لوړو زده کړو خصوصي موسسه په حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې دوه ډیپارټمنټونه (قضا او څارنوالي، اداره او ډیپلوماسي) او په (ښوونه او روزنه) پوهنځي کې بیا نهه ډیپارټمنټونه لري.

په پیمان د لوړو زده کړو خصوصي موسسه کې اوسمهال ۱۰۸٦۰ محصلین پر لوړو زده کړو بوخت دي، چې له دې ډلې ۱۱۸۹ یې نارینه او پاتې نور یې ښځینه محصلین دي. د لوړو زده له دې موسسې څخه تر اوسه پورې پنځه دورې محصلین فارغ او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي. همایون وایي، د ټولو فارغ شویو محصلینو شمېر یې ۱۵۰۰ ته رسېږي. دا چې پیمان د لوړ زده کړو موسسه د ښوونې او روزنې پوهنځی هم لري او په دې پوهنځي کې تر ډېره څوارلسم پاس محصلین نوملیکنه کوي، نو ځکه یې په لږه موده کې زیات شمېر محصلین فارغ کړي دي. ښاغلی پیمان وایي چې د ښوونې او روزنې پوهنځي ډېری فارغ شوي محصلین یې خپله په تخار ولایت کې د ښوونکو په توګه په ښوونځیو کې تدریس کوي او له حقوق او قابلګۍ پوهنځي څخه فارغ شوي محصلین یې بیا د هېواد په بېلابېلو دولتي او غیر دولتي ادارو کې پر دندو بوخت دي.

د لوړو زده کړو د دې موسسې موسس محمد همایون پیمان وایي، چې هر کال یې د نویو جذب شویو محصلین شمېر توپیر کوي. د ده په خبره، په بهاري او خزاني کانکور ازموینه کې یې هر کال له ٦ سوه نیولې بیا ان تر ۱۱ سوه پورې نوي محصلین هم جذب کړي دي. نوموړی زیاتوي، دغه څه تر ډېره په هېواد کې په ځانګړې توګه بیا د دوی په ولایت کې په امنیتي او د خلکو په اقتصادي وضعیت پورې تړلې خبره ده. د پیمان په خبره، که امنیتي وضعیت سم وي او تر څنګ یې خلک له مناسب اقتصادي وضعیت څخه برخمن وي، نو په هغه کال یې د محصلینو جذب هم ور سره زیات وي.

د پیمان د لوړو زده کړو موسسې اداره په څو کټه‌ګوریو کې د محصلینو لپاره تخفیف لري، چې لومړۍ کټه‌ګوري یې د شهیدانو او معلولینو د ورثه‌وو لپاره ده. ښاغلی پیمان وایي، د شهیدانو او معلولینو ورثه تر ټولو حقداره دي، چې په دې برخه کې داسې محصلین هم لري چې په وړیا ډول په دې موسسه کې لوړې زده کړې کوي او داسې محصلین هم شته چې په مناسب تخفیف خپلو لوړو زده کړو ته ادامه ورکوي. دغه راز هغه کسان چې اقتصادي ستونزې لري او نه شي کولای لوړې زده کړې وکړي، د هغوی لپاره هم له شل سلنې نیولې تر پنځوس سلنې پورې تخفیف لري. په پیمان د لوړو زده کړو خصوصي موسسه کې د ورځې دوه وخته محصلین د زده کړو لپاره ورځي.

پیمان د لوړو زده کړو موسسې د محصلینو لپاره د کتابتون، کمپیوټر لب او انټرنېټ اسانتیاوې هم برابرې کړې دي. د دې موسسې موسس وایي، د پوهنځیو اړوند او نور د اړتیا وړ ډېری کتابونه یې په کتابتون کې ځای پر ځای کړي، چې محصلین او استادان وخت ناوخت له کتابتون څخه استفاده او مطالعه پکې کوي. په پیمان د لوړو زده کړو موسسه کې د تدریس چارې د ٦۴ استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې له ډلې یې ۱۷ دایمي او پاتې نور یې قراردادي استادان دي، چې ډېری یې د تخار دولتي پوهنتون استادان دي. نوموړی وایي، دغه استادان ور سره په ساعتوار ډول تدریس کوي؛ خو محمد همایون پیمان وایي چې ډېری استادان یې لېسانس، خو کم یې بیا د ماسټرۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې لري.

د پیمان د لوړو زده کړو موسسې اداره په کور د ننه له ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره ښې اړیکې لري، خو له تخار پوهنتون سره د علمي اړیکو هوکړه هم لري چې وخت ناوخت ور سره په اړیکه کې وي او دواړه پوهنتونونه په اړوندو برخو کې خپلې تجربې او ستونزې سره شریکوي. د دې تر څنګ د تاجکستان له ملي پوهنتون سره هم د علمي اړیکو هوکړه لري، چې له مخې یې د دوی فارغ شوي محصلین او استادان په دغه پوهنتون کې د ماسټرۍ او دوکتورا په پروګرامونو کې په مناسب تخفیف شاملېږي. ښاغلی محمد همایون پیمان وایي چې تازه یې پر یوه هوکړه کار کړی او غواړي چې په ایران کې هم له یوه پوهنتون سره د علمي اړیکو هوکړه لاسلیک کړي. دی وایي، د هوکړې لاسلیک یې د کرونا ناروغۍ د خپرېدو له کبله ځنډېدلی دی.

همایون پیمان وایي چې فارغ شویو محصلینو ته یې تر اوسه پورې دولتي ډیپلومونه نه دي ورکړي، خو له لوړو زده کړو وزارت سره په همغږۍ او د دې وزارت او د پوهنتون د اداري په تایید باندې فارغ محصل ته تصدیق‌پاڼه ورکوي چې محصل کولای شي د دې تصدیق‌پاڼې په مټ په کور د ننه او بهر کې د ماسټرۍ په پروګرام کې شامل شي او یا هم په کومه اداره کې ور باندې دنده واخلي. د لوړو زده کړو د دې موسسې د علمي معاونیت لخوا د محصلینو د وړتیاوو لوړو لپاره بېلابېل پروګرامونه جوړ او وړاندې کېږي، چې محصلین پکې ګډون کوي، څو یې علمي سویه لوړه شي او په اړونده برخه کې تجربه تر لاسه کړي.

د نویو پوهنځیو تاسیس، له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع، په کور د ننه او بهر له معتبرو پوهنتونونو سره ښې اړیکې او د علمي هوکړو لاسلیک کول، بهرنیو هېوادونو ته د ماسټرۍ په پروګرامونو کې د ګډون لپاره د استادانو او محصلینو استول او په نورو ولایتونو کې د پوهنتون د څانګو پرانیستل د پیمان د لوړو زده کړو موسسې د اداري راتلونکي پلانونه دي.

محمد همایون پیمان وایي، د خصوصي پوهنتونونو په مخ کې خورا ډېرې ستونزې پرتې دي، خو دی له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې خصوصي پوهنتونونه باید وخت ناوخت ارزیابي شي او هغه پوهنتونونه یا د لوړو زده کړو موسسې چې ښه کار کوي، باید وستایل شي، د نویو پوهنځیو د تاسیس اجازه ورکړل شي، د پرمختګ لپاره یې زمینه برابره شي، غوښتنې یې واورېدل شي او ستونزو ته یې رسیدګي وشي. د دې تر څنګ له لوړو زده کړو وزارت غواړي، هغه بورسونه چې په کور د ننه یا بهر کې د ماسټرۍ او یا دوکتورا لپاره د دولتي پوهنتونونو د محصلینو او استادانو لپاره راځي، خصوصي پوهنتونونو ته هم پکې ونډه ورکړل شي .

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ٧٦,٨٠ |
| € | ٨٩,٨٠ |
| Rp. | ٤٦١ |
| ₹ | ١٠٤٠ |
| ¥ | ١٠,٦٠ |
| £ | ٩٨,٢٠ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

# د امریکا په ناکامۍ کې د افغان سولې د خبرو ښکارندويي

ژباړه: صفی الله حبیبي

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د بهرنۍ پالیسۍ په برخه کې یو پوره کارپوه او سټراتیژست نه دی. په ۲۰۱٦ م کال کې د ده یوه له مشهورو ټاکنیزو ژمنو څخه له افغانستان نه د امریکایي قواوو راوستل وو، چې اوس یې د پوره کولو لپاره بېړنۍ هڅې روانې کړې دي، څو خپل کمپاینې کارونه پرې پرمخ هم بوزي. نو له همدې امله د هغه اداره د افغان حکومت او طالبانو تر منځ د مذاکراتو لاره هواروي.

ظاهراً کېدای شي د ځینو ناخبرو او هېرجنو خلکو لپاره د ټرمپ هغه هڅې چې د ۱۹ کلنې اوږدې جګړې د ختمېدو لپاره د جورج بوش په یرغل سره د اسامه بن لادن د نیولو لپاره پیل شوې وې، هیله‌مندې وبرېښي؛ خو مشهوده پوښتنه چې باید د امریکا له ښاغلي ولسمشر څخه مطرح شي، دا وي چې د ۲۳۷۲ پوځیانو وژنه، په میلیاردونو ډالرو او د ۵۰۰۰۰ افغان ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې پایله او لاس ته راوړنه به د ۱۹ کلنې جګړې په لړ کې څه وي؟ آیا د سپټمبر د پېښې د برید په تړاو د بوش ناڅاپه غبرګون د دې ارزښت درلود؟ په ځانګړې توګه کله چې بن لادن له خپل ټاکلي ځای (تورا-بورا) څخه وتښتېد او لس کال وروسته په پاکستان کې له خپل برخلیک سره مخ شو.

تریخ حقیقت دا دی چې سپینه ماڼۍ د (امریکا لومړی – امریکا فرسټ) کلمې په اصلي مانا کې داسې ښکېل ده چې پایله یې د طالبانو بېرته واک ته رسېدل دي.

په ۲۰۰۱ م کال کې طالبان هغه لومړنی واکمن رژیم و چې چا به ترې د سرغړونې جرأت نشو کولی او که به یې وکړ له جدي چلند سره به مخ شو. خو دا رژیم د مالي ګټو او له اسلام څخه د ګډ تعبیر پر بنسټ القاعدې ته په کوربه توب مجرم وګڼل شو. په سر کې د ائتلافي ځواکونو لخوا وپاشل شو او بیا د یوې داسې تروریستي ډلې په توګه وپېژندل شو چې پر ښوونځیو، روغتونونو، بازارونو او داسې نورو د چاودنو مسوول وبلل شو.

تاسې فکر وکړئ، خپله د ولسمشر اشرف غني په وینا د سږ کال له هغه مودې را پدېخوا چې د سولې هوکړه لیک د فبرورۍ په ۲۹مه او د جون په ۲۱مه لاسلیک شو، شاوخوا ۳۵٦۰ افغان پوځیان د طالبانو لخوا وژل شوي او ٦۷۸۰ نور بیا ټپي شوي دي.

اوسني طالب جنګیالي په پوره مانا متفاوت دي، دوی له ماشومتوبه د بې رحمه ایډیالوژستانو په توګه روزل شوي چې موخو ته د رسېدلو لار یوازې په تاوتریخوالي کې ویني.

د واک پر سر وېشل شوی حکومت د حکومت پلاوي او طالب مذاکره کوونکو تر منځ تېره شنبه د واک د وېشلو پر سر چې کومې بین الافغاني خبرې پیل شوې، کېدای شي مثبتې پایلې ومومي، ځکه نو طالب مشران به اوس د یوه پېژندل شوي قدرت په توګه د برې خوبونه ویني.

افغان وګړي له یو داسې هېواد څخه چې پکې د فساد، فقر، بېوزلۍ، بې قانونۍ، ترهګرۍ او دې ته ورته نورو بدمرغیو ګراف هسک روان دی، تر پوزو راغلي. دوی په داسې هېواد کې چې د وګړو ژوند پکې خوندي نه دی او ځانمرګي بریدونه یې دومره عادي شوي وي چې ان د بهرنیو رسنیو پام ځان ته نه اړوي، له ژونده ستړي شوي دي.

خو یاد شرایط ښایي د طالبانو په شتون کې تر دې هم د خرابېدو پر لور روان شي، په ځانګړې ډول د ښځو لپاره چې لاسته راوړې آزادي به یې هم ترې واخیستل شي.

د بوش هغه ژمنه چې طالبان به ګنېدو، سوکالۍ، آزادۍ او ډیموکراسۍ ته له رسېدلو وړاندې له پښو غورځوي، اوس هم د پخوا په شان شکمنه او ناباوره ښکاري.

هو! د طالبانو رژیم دا ډول ستونزې لري چې پکې شپږ کلنې نجونې پرته له خوښې خاوند ته په نکاح او تر ډېره د پلار د مالي استطاعت د نشتوالي په سبب او د وام پرې کولو په موخه په بدلانه ورکول کېږي.

د طالبانو بې ساري غښتلتیا تر کابل ورهخوا، پرته له هغو سیمو چې د طالبانو تر واک لاندې دي، ډېری نورې یې قومي مشران او جنګ سالاران کنټرولوي. په یوه مقاله کې چې د (بهرنیو اړیکو د شورا) په وېب پاڼه کې خپره شوې وه؛ داسې راغي: «طالبان له ۲۰۰۱ م کال راپدېخوا تر بل هر وخت پیاوړي شوي دي. دوی شاوخوا په خپل ٦۰۰۰۰ برحاله جنګیالیو باندې د هېواد پنځمه برخه کنټرولوي او پکې بریدونو او تاوتریخوالي ته دوام ورکوي.»

نو هر هغه څوک چې طالب ته د مذهبي- محافظه کارانه دید له لوري انګېري چې ګني د اشرف غني حکومت ته به د بارو وړ ملګری پاتې شي؛ هغه د ټرمپ په وینا، دا به یو لېونی او بې سده کس وي.

د طالب جنګیالیو برخلیک، د هغوی خلع سلاح کول، د هېواد د نظام بڼه، د هېواد د نامه او بیرغ پر سر مخالفتونه د جانبینو او نړیوالو شنونکو لپاره اساسي او د پام وړ موارد ګڼل کېږي.

دې سیاسي لوبې ته امریکا د «رضایت» نوم ورکړی دی. ځکه ټرمپ به هرومرو وایي، یوځل چې امریکایي پوځیان کورونو ته ستانه شول، دی به یې پروا هم ونه کړي چې طالبان واک تر لاسه کوي او که نه. که څه هم ده د یوه سر اعلی قومندان په توګه دغه احمقانه جنګ د یو بدمرغه کس د وژلو په موخه نه و پیل کړی.

امریکا او د ناټو غړي هېوادونه په افغانستان کې په خپل ماموریت کې پاتې راغلي، نو که چېرې دوحه کې هوکړه وشوه، ټرمپ به خامخا ځان بریالی وګڼي په داسې حال کې چې طالبان به تر دې ډېر بریالي وګڼل شي.

## ولسمشرغني: طالبان دې تلپاتې سولې ته د رسېدو لپاره اوربند ومني



ولسمشرغني د تاوتریخوالي د کمېدو په موخه یو ځل بیا له طالبانو غوښتي چې اوربند وکړي. له ارګه په خپره شوي خبرپاڼه کې ولسمشر غني پر وسله والو طالبانو غږ کړی چې تلپاتې سولې ته د رسېدو لپاره د اوربند په اړه دې د افغانانو غوښتنه ومني.

په اعلامیه کې ویل شوي: «جمهور رییس د هېوادوالو د خوندیتوب، د تاوتریخوالي او تروریستي بریدونو د مخنیوي او مطلوبې پایلې ته د سولې مذاکراتو د رسېدو په موخه چې د تلپاتې او باعزته سولې تامین دی، یو وار بیا د طالبانو پر ډلې غږ وکړ چې بشري، سراسري او دایمي اوربند چې زموږ د افغانستان د خلکو، حکومت او نړیوالو غوښتنه ده، ومني.»

ولسمشر غني داسې مهال پر والو طالبانو د اوربند غږ کړی چې تېره اونۍ په دوحه کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو د مذاکراتي ټیمونو ترمنځ د سولې مخامخ خبرې پیل شوې او په افغانستان کې د جګړې د پای ته رسېدو په موخه د اوربند مسئله هم د یادو ټیمونو له مهمو بحثونو څخه ده.

دا په داسې حال ده چې د افغان چارواکو په وینا، په دې وروستیو کې د سولې خبرو له پیل سره هممهاله په هېواد کې جګړو زور اخیستی دی. په ورته وخت کې وړمه ورځ په کابل کې د امریکا سفارت هم خبرداری ورکړی چې یو شمېر افراطي ډلې پلان لري په افغانستان کې یو شمېر بریدونه وکړي.

یاد سفارت په یوې اعلامیې کې ویلي چې پر یو شمېر ښځینه حکومتي کارکوونکو، ولسي خلکو، په ښوونکو، د بشري حقونو په فعالانو او نورو حکومتي مامورینو د بریدونو خطر زیات دی.

## د بشري حقونو سازمان: ښکېل اړخونه دې د نښتو پرمهال د جګړې نړیوال قوانین مراعات کړي



په کابل کې د بریدونو په تړاو د امریکا د سفارت وروستۍ اعلامیې د مدني ټولنو، د بشر حقونو او د پوهنې د کارکوونکو اندېښنې را پارولې دي. دا په داسې حال کې ده چې د امریکا سفارت وړمه ورځ په یوه اعلامیه کې ویلي چې د دوی په وینا، ځینې ترهګرې ډلې غواړي چې په کابل کې د ملکي ادارو کارکوونکي په نښه کړي. په ورته وخت کې د افغانستان د بشر حقونو بنسټونه وایي چې په جګړه کې ښکېل اړخونه باید د خپلو موخو لپاره د ملکیانو ژوند له ګواښ سره مخ نه کړي. د افغانستان د بشري حقونو سازمان رییس لعل ګل لعل وایي، په جګړه کې ښکېله هره ډله اړ ده چې د نښتو پرمهال د جګړې نړیوال قوانین مراعات کړي.

نوموړی زیاتوي: «دغه ګواښونه چې د امریکا د سفارت لخوا یې خبر خپور شو، دا موږ او هغو ملکیانو ته چې په هېڅ لوري پورې تړاو نه لري، داندېښنې وړ دي او د بشرپالنې او اسلامي قوانینو او د جنګ له اصولو ښکاره سرغړونه ده.»

لعل دغه راز پر امنیتي، استخباراتي او کشفي ارګانونو ټینګار کوي چې د دغه ډول احتمالي پېښو د مخنیوي لپاره دې جدي تدابیر ونیسي. په ورته وخت کې د مدني ټولنې فعالان سره له دې چې پر دغه ګواښ اندېښنه ښیي، خو وایي چې مدني بنسټونه سیاسي نه دي، بلکې د ټولنې د ښېګڼو لپاره هڅې کوي او که هره ډله یې چې ګواښي، بشري حقونه تر پښو لاندې کوي. د امریکا سفارت په اعلامیه کې دغه راز په کابل کې د امریکا له پوځیانو او ملکي کارکوونکو غوښتل شوي چې په نږدې راتلونکو څو ورځو کې له احتیاطه کار واخلي. سرچینې زیاته کړې چې د افغانستان د پوهنې وزارت اړوند کارکوونکي هم د ترهګرو په ګواښ کې شامل دي، خو د دغه وزارت ویاندې نوریه نزهت ازادي رادیو ته ویلي، پوهنې وزارت دوست او دښمن دواړو ته بې پرې او یوشان خدمتونه وړاندې کوي او ګواښول یې د بشریت ګواښل دي.

هغه زیاتوي: «د پوهنې پر کارکوونکو برید کول، د جنګي او بشري قوانینو خلاف عمل دی، له جنګي ډلو نه مو غوښتنه ده چې د نښتو پرمهال د غیرنظامیانو خوندیتوب ته جدي توجه وکړي.»

مسير ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کيفيت او چټک خدمات په
وايګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

يکشنبه د ۱۳۹۹ د وږي ۳۰مه | د ۲۰۲۰ د سپتمبر ۲۰مه | ۵۹۶يمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۳۰ | ۳۳ | ۳۵ | ۳۱ | ۳۷ |
| ۱٤ | ۱٦ | ۱۸ | ۱۷ | ۲۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۱۷ | لمر ختل ۰۵:۳۹ | ماسپښين ۱۱:۴۸ | مازيګر ۰۳:۱۶ | ماښام ۰۵:۵۵ | ماخوستن ۰۷:۱۹

## نړۍ




## عثمانی: احتمال قوی وجود دارد که با سرد شدن هوا موج دوم کرونا شیوع کند



سرپرست وزارت صحت عامه از شدت ویروس کرونا در فصل زمستان نسبت به فصل گرما هشدار داده و می گوید که امکان قوی وجود دارد که با سرد شدن هوا موج دوم کرونا شیوع کند. احمد جواد عثمانی سرپرست وزارت صحت عامه که دیروز بخاطر بررسی شفاخانۀ کوید-۱۹ شیدایی و تقدیر از داکتران به هرات آمده بود، در یک نشست خبری ظاهر شد و از موج دوم شیوع ویروس کرونا در فصل زمستان هشدار داد. وی سردی هوا، افزایش بیماری ریزش‌های موسومی و آلودگی هوا را از عوامل تهدید کنندۀ افزایش شمار مبتلایان به ویروس کرونا در فصل زمستان دانسته و گفت که مبارزه با کرونا هنوز هم از اولویت های حکومت به شمار می رود. موصوف با بیان اینکه بررسی‌های انجام شده در کشورهای اروپایی و امریکایی نشان میدهد که شدت ویروس کرونا در فصل زمستان بیشتر از فصل گرما است، می گوید: «به همین دلیل امکان قوی وجود دارد که ما با موج دوم ویروس کرونا مواجه شویم.» عثمانی همچنان از آمادگی ها برای مبارزه با ویروس کرونا در فصل زمستان در کشور خبر داد و گفت که نسبت به اوج نخست ویروس کرونا در موج دوم آمادگی های بیشتر روی دست گرفته شده است.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا وبا له کبله د مړو شمېر ۹۵۷ زره او ۳٦۱ کسانو ته ورسېد



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ويروس مثبتې پېښې ۳۰ ميليونه او ۷۵۱ زره او ۳٦۹ ته رسېدلي دي. دغه راز د ياد ويروس له کبله تر دې مهاله ۹۵۷ زره او ۳٦۱ کسان مړه شوي او له ۲۲ ميليونو ډېر ښه رغېدلي دي.
د دغو شمېرو پر اساس، د امريکا متحده ايالتونه لاهم د کرونا د ډېرو مثبتو پېښو او قربانيانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د کرونا ويروس مثبتې پېښې نږدې اوو ميليونو ته رسېدلي او دغه راز ۲۰۳ زره او ۱۸۸ امريکايان يې مړه کړي دي. له امريکا وروسته هند، برازيل، روسيه او پېرو په ترتيب سره دويم، درېيم، څلورم او پنځم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.
بلخوا، د روغتيا نړيوال سازمان خبرداری ورکړی، چې کرونا وبا لاهم يو ګواښ دی او هېوادونه يې بايد د مخنيوي لپاره لا ډېر لاس په کار شي. د دغه سازمان د بېړنيو چارو مشر ډاکټر مايک راين وايي، د راتلونکي ژمي لپاره بايد له دې ناروغۍ سره د مبارزې لپاره چمتووالی ونيول شي. نوموړي دا څرګندونې داسې مهال کړې، چې ګڼو هېوادونو د کرونا ويروس د دويمې څپې له کبله د محدوديتونو لګولو اعلان کړی.

## اېف بي آی: په امريکا کې روانو کړکېچونو ته په کتو، ښايي کورنۍ جګړه پيل شي



د امريکا د څېړنو فدرالي اداري په متحده ايالتونو کې د احتمالي جګړو په اړه اندېښنې څرګندې کړې او زياته کړې يې ده، په داسې حال کې چې ټاکنو ته لږ ورځې پاتې دي، د امريکا اقتصادي وضعيت ورځ تر بلې د خرابېدو په حال کې دی، د کرونا له امله د مړو شمېر تر ۲۰۰ زره اوښتی او د ټرمپ اداره هره ورځ د راتلونکو ټاکنو په اړه اندېښمنوونکې څرګندونې کوي.
ياده اداره زياتوي چې پورتنيو مواردو ته په کتو، په دغه هېواد کې د کورنۍ جګړې احتمال خورا ډېر دی. د امريکا د څېړنو فدرالي اداري په وينا، تاريخ ثابته کړې چې په دغه هېواد کې تر دې وړاندې هم د توکمپالنې ضد اعتراضونو پر مهال کورنۍ جګړې شوي دي، نو اوس هم دا احتمال نه شي ردېدلی چې د امريکا راتلونکې ټاکنې به سختې ګډوډې وي او ښايي پر مهال يې پراخې کورنۍ جګړې هم پيل شي.
دا په داسې حال کې ده چې د امريکا ولسمشريزو ټاکنو ته لږ وخت پاتې دی او اوسنی ولسمشر ډونالډ پر خپل سيال جوبايډن سربېره، د امريکا پر تېرو حکومتونو هم توندې نيوکې کوي او زياتوي چې پر خپلې بريا يقيني دی او دويم ځل به هم د امريکا ولسمشر وي.

عزیزی بانک
Azizi Bank

قابل توجه مشتریان گرامی

از همه مشتریان گرامی که معاملات بانکی خویش را از طریق عزیزی بانک انجام میدهند، تشکر مینماییم. میخواهیم به سمع همه مشتریان عزیزی برسانیم که طبق معمول، قبل از ختم سال, تمام کتاب‌های معاملات و حسابات مربوط به بانک تصفیه نماییم. بنابراین، همه حساباتی را که دارای بیلانس صفر میباشند (اعم از حسابات جاری/ امانات/ معاش که دارای بیلانس صفر میباشند و یا طی ٦ ماه غیر فعال بوده و در آن داد و ستد صورت نگرفته)، مسدود خواهیم ساخت. بنابراین، از همه دارندگان چنین حسابات تقاضا مینماییم تا حسابات خویش را فعال ساخته و حد اقل بیلانس لازمه را در آن حفظ نمایند. همه حسابات غیر فعال و دارای بیلانس صفر در زمان معیینه آن، بعد از ۳۰ روز مسدود خواهد شد.
از همه مشتریان خویش به خاطر حمایت دوامدار شان، ابراز امتنان مینماییم.

د ګرانو پیرودونکو د پام وړ

مونږ له خپلو ټولو پېرودونکو چې دعزيزي بانک له لارې خپل بانکي معاملات ترسره کوي، مننه کوو. مونږ غواړو خپلو ټولو درنو پيرودونکو ته خبر ورکړو چې د تل په څېر، ټول د بانکي معاملاتو او حسابونو اړوند کتابونه د کال دختميدو څخه د مخه تصفيه کړو. په همدې توګه مونږ به ټول هغه غير فعال صفر بيلا نسه حسابونه وتړو. (لکه جاري/ امانات/ د معاش اړوند حسابونه چې بيلانس يې صفر دی او د ٦ مياشتو را پديخوا يې کومه راکړه ورکړه نه ده ترسره کړې.) مونږ د ورته ټولو حسابونو درلودونکو څخه هيله او غوښتنه کوو چې خپل حسابونه فعال او لږ ترلږه اړين بيلانس پکې وساتي. ټول ورته حسابونه چې غير فعال پا تي دي او بيلانس يې صفر وي، له ۳۰ ورځو وروسته به په ټاکلې وخت وتړل شي.
مونږ د خپلو ټولو پيرودونکو له دوامداره ملاتړ څخه مننه کوو.

NOTICE TO OUR ESTEEMED CUSTOMERS

We thank all our esteemed customers for Banking with us. We would like to inform all our valued customers that as a routine exercise we will be cleaning our books before annual closing. We will close all inoperative Zero Balance Accounts (those Current/Savings/Salary accounts having zero balance and having no operation for more than 6 months). We request all such account holders to activate their accounts and maintain minimum balance required. All such accounts which remain inoperative and with zero balance will be closed in due course after 30 days.
We thank all our customers for their continued patronage.